عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۸/۱۵

# د افغانستان د اسلامي اِمارت مشرانو ته څلورم پرانیستی لیک

درنو مشرانو السلام علیکم.

زړه ته مي نه لوېږي چي زما دا لیک به ولولی او که یې ولولی نو فکر نه کوم چي اهمیت به ورکړی؛ ځکه چي دا به د خپل یوه مخالف سړي لیک وبولی او مخالفت تاسي زغملای نه سی. خو زه د یوه افغان په حیث د وطن د حالاتو په باره کي د نظر څرګندول خپله وظیفه بولم.

درنو مشرانو! ستاسي د قدرت د نیولو درې کاله پوره کیږي خو ستاسي په کابینه کي تر اوسه پوري ټول اساسي قدرت د پښتنو او هغه هم د یوه ټاکلي سمت د پښتنو اقوامو په لاس کي دی. تاسی ښایي وواياست چي نورو اقوامو ستاسي سره د امریکایی قواوو په ایستلو کي یا مرسته نه ده کړې او یا یې لږه مرسته کړې ده نو ځکه باید ټول قدرت د هغو کسانو او قومونو په لاس کي وي چي د امریکا سره په جهاد کي یې برخه درلودلي وي. خو د دې معنا دا نه سي کېدلای چي تاسي باید د افغانستان د نورو اوسېدونکو لویو قومونو پر حق باندي سترګي پټي کړی او له خپلو حقوقو څخه یې محروم کړی.

دا وطن د ټولو هغو قومونو دی چي، د پښتنو په څېر، له نا معلومي مودې راهیسي، په دې خاوره او وطن کي آباد دي او په هر غم او ښادي کی یې برخه درلودلي ده. موږ افغانان او نړی وال چي د ټول شموله حکومت غوښتنه کوو؛ مطلب مو په حکومتي اداره کي د هغو داړه مارانو او غلو ګډون نه دی چي څه باندي شل کاله یې پر دې هیواد باندي بې مسوولیته واکداري وکړه. مځکي او جایدادونه یې غصب کړل، د پردیو لپاره یې خپل اولسونه قتل کړل، د دوستم په څېر یې د خلکو پر عزت او شرف باندي صرفه ونه کړه، د هیواد شته مني، خزاني او جواهرات یې پردیو ته سوغات کړل او اوس هم لا، د پردیو په زور، په افغانستان کي د بیرته واکمنېدلو خوبونه ویني.

له ټول شموله حکومت او اداري څخه مطلب د افغانستان ټولو شریفو قومونو او قشرونو ته په قدرت کي برخه ورکول دي. ځوک چي په دې وطن کي اوسېدلي او اوسیږي هغوی نه یوازي په هیواد کي د اوسېدلو بلکه د خپل وطن په ښو او بدو کي د برخي اخیستلو مشروع حق لري. چا چي په دې وطن کي تعلیم او تحصیل کړی دی هغوی په هیواد کي د وزارتونو، معینیتونو، ریاستونو، ولایتونو او اداري، تعلیمي او قانوني صلاحیتونو درلودلو حق لري. یو ګوندي حکومت، د یوې خاصي لاري او ایدیالوژۍ حکومت، په یوه کثرالاقوام هیواد کي د یوه ځانګړي سمت او قوم حکومت ډېر دوام نه سي کولای.

ستاسي د تعلیم او تربیي وزیر سیدحبیب الله اغا څو ورځي مخکي د کانکور په آزموینه کي بریالي سویو شاګردانو ته وویل چي عصری تعلیم فرض کفایی دی( زه نه پوهېږم چي د عصري تعلیم په مسله کی فرض کفایی او فرض عین څرنګه مطرح کېدلای سي او څرنګه ارتباط ورشسره پیدا کوي؟ ) حبیب الله اغا، پرمخ تللیو هیوادونو ته د

اشارې په ترڅ کې، وويل چي « دوی اسمان ته ورسېدل، ډرون يې په اسمان کې ګرځي. زه او ته د ډرون په مقابل کې څه لرو؟ هيڅ نه لرو. خو دا به جوړوو. . . » لومړی خو بايد له حبيب الله اغا څخه پوښتنه وسی چي ده پخپله څه عصري تعليم کړی او د عصري علومو له کومي پوهنځی څخه فارغ سوی دی چي د عصري علومو د زده کړي او ترويج غم ورسره پيدا سوی دی؟ څوک چي د عصري علومو غوښتنه کوي هغه پخپله بايد عصري تعليم کړی وي. او که نه وي نو بايد لومړی د هغو کسانو قدر وکړي چي په وطن کي يې د عصري علومو په زده کړو او تدريس کي ږيري او سرونه سپين کړي دي. د عصري علومو غوښتنه په داسي حال کي نه کيږي چي د وطن د ساينس پوهنځي د فزيک او رياضي استادان دي په بازار کي کچالو خرڅوي خو حبيب الله اغا او شيخ نديم دي د تعليم او تربيې او عالی تحصيلاتو د وزارتونو پر چوکيو ناست وي او د عصري تحصيلاتو لرونکي استادان دي کچالو او شلغم وپلوري. نه يوازي دي تحصيل يافته کسان د عصري تعليماتو او تحصيلاتو په مسله کي هيڅ واک اختيار ونه لري بلکه د آزادو خبرو او نظر ورکولو حق دي ورڅخه اخيستل سوی وي او چي هر چيري ږغ پورته کړي نو د مُلايانو له لرګيو او کېبلونو سره مخامخ سوي وي. د عصري علومو د انکشاف غوښتنه په داسي حال کي نه کيږي چي د عصری علومو متقاعد استادان او معلمين د تقاعدي تنخوا له حق څخه محروم کړل سي او له مسوولو مقاماتو سرا دا سوائل هم پيدا نه سي چي د تقاعدي تنخوا له حق څخه دغه محروم سوي کسان به څه خوري او څه به اغوندي. البته افغانستان په نړۍ کي يوازينی هيواد دی چي د متقاعدينو پر حق باندي يې سترګي پټي کړي دي؛ او وزيران يې لا بيا هم د عصري علومو د زده کړي غوښتنه کوي. په دغه اوسني شکل ستاسي د نظام هرکال دوام افغانستان شل کاله شاته غورځوي.

ستاسي څخه به يوه بله پوښتنه هم وکړم. تاسي د حضرت رسول اکرم ص څخه نيولي بيا تر اوسه پوري داسي خليفه، امير، سلطان يا پاچا ليدلی يا لوستی يا اورېدلی دی چي له خپلو خلکو او حتی له خپلو وزيرانو څخه مخ پټوي؟ حضرت رسول اکرم ص خو د خپلو صحابه وو په منځ کي ناست وو او امامت يې پخپله کاوه. د هغه حضور ته خو هر نارينه او ښځي خپل عرض وړاندي کولای سوای او هره ورځ يې کولای سوای چي هغه ووينې. تاسي په نړۍ کي داسي پاچا ليدلی او يا په تاريخ کي اورېدلی دی چي له خپلو خلکو څخه پټيږي؟ دا داسي مرموز او بې مثاله حالت دی چي په نړۍ او افغانستان کي يې له هر چا سره سوال پيدا کړی دی. دا د خلکو مشروع او قانوني حق دی چي خپل مشر او پاچا ووينې، د هغه آواز واوري او خپل آواز، عرض او شکايت په واوري.

افغانستان په نړۍ کي يوازينی هيواد دی چي د ښځو تعليم او تحصيل پکښي غير قانوني دی. تاسي يوازي ښځيه نرسانو او ډاکټرانو ته د کار حق ورکوی؛ او هغه هم ځکه چي د خپلو ښځينه اړتياوو لپاره يې خدمت ته ضرورت لری. ښځي ولي يوازي نرساني او ډاکترانی سي؟ د عصري علومو کومه ځانګه ده چي موږ په هغې کي معلماني، استاداني او متخصصيني نه درلودې او نه يې لرو؟ تاسي ته دا حق چا درکړی دی چي د ښځينه ډاکټرانو او نرسانو تنخواوي يوازي ۵۰۰۰ افغانيو ته راکمي کړی؟ تاسي پخپله په دغه تنخوا ګوزاره کولای سی؟ تاسي فکر کوی چي خلک ړانده دي او ستاسي عيش او عشرت نه ويني؟

زه ستاسي دښمن نه يم او نه مي عمر او صحت له چا سره د دښمنۍ کولو اجازه راکوي او نه يې وس لرم. مګر زما دا خبره واوری چي په ظلم او جبر تر يوه وخته حکومت کيږي مګر تر قيامته دوام نه سي کولای. د ايران اسلامي حکومت ستاسي تر نظام سل چنده قوي دی. که د هغه په مقابل کي پنځه شپږ ځله پاڅون کېدلای سي نو تاسي هم بېغمه نه سی پاتېدلای. که د پنجاب د ظالم او جابر حکومت او يو ميليوني پوځ او پوليسو په مقابل کي پښتانه او بلوڅ را پورته کېدلای سي؛ نو تاسي هم تر قيامته دوام نه سی کولای. که تاسي فکر کوی چي تر قيامته به


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د لرګي او کيبل په واسطه د خلکو آوازونه کرار کړی نو دا خيال له سره وباسی. تاسي وليدل چي د يوه شهيد ګيله من پاکو وينو څومره رنګ راووړ او څرنګه يې ټول پښتانه په پښتونخوا او نړۍ کي وپاڅول او زه يقين لرم چي دا پاکي او شهيدي ويني به يوه ورځ د پنجاب غاړه سره کړي. تاسي هم تر قيامته د ميليونونو اولسونو پر حقوقو باندي پښه نه سی اېښودلای. که دې پراخو اولسونو او د افغانستان ټولو قشرونو ته حقوق ورنه کړه سي هغوی يې يوه ورځ په زور درڅخه غواړي او تاسی يقين ولری چي درڅخه اخيستلای يې هم سي. د افغانستان د اوسني نظم قهري سقوط د هيچا په ګټه نه دی بلکه د ټولو په تاوان دی. ستاسي اوسنی انحصاري نظام د افغانستان د ميليونونو اولسونو ترمنځ دښمني ايجادوي او د هغي دښمنۍ ټول مسووليت به ستاسي په غاړه وي.

دا وطن د پښتنو دی دا وطن دی د تاجکو

دلته کور د هزاره دی دلته اور دی د اوزبيکو

له پېړيو دلته اوسي په پېړيو به اوسيږي

په ازل کي سره خپل وه په قيامت به جلا کيږي.

[په افغان جرمن آنلاين کی پورتال د ليکوال آرشيف](#)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ